

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

# اباډي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۷ | مسلسل نمبر: ۵۹


شنبه، د محرم الحرام ۳۰مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## د غزني ولايت په مرکز کې تر ځمکه لاندې سوداګريز مارکېټ جوړېږي



۲ صفحه

## د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د ۸ ميلیاردو افغانيو په پانګونې سره د برېښنايي سکنرونو د نصب قرارداد لاسليک شو



۲ مه صفحه

## توليدات داخلي؛ اهميت و راهكار های افزايش آن



۴ مه صفحه



## سرليکنه

د ملي پراختيا شرکت مسوولين وايي، چې د قوش‌تېپې کانال د دوهم فاز چارې ۵۸ سلنه بشپړې شوې دي. د قوش‌تېپې کانال د پروژې مسوول ويلي چې د فارياب ولايت د اندخوی ولسوالی اړوند د دوهم فاز د کيندنې کار ۱۳۰ کيلومټرو ته رسېدلی دی. نوموړی د قوش‌تېپې کانال د دوهم فاز د چارو ۵۸ سلنه پرمختګ ته په اشارې سره وايي چې د کانال په دوهم فاز کې څه باندې ۳۵۰۰ کسان او ۳ زره ماشينري کار کوي. د ملي پراختيا شرکت مسوولين وايي پلان لري چې د ۲۰ ميلیارده افغانيو په لګښت د قوش‌تېپې کانال د دوهم فاز د کيندنو چارې د روان کال تر پايه د فارياب ولايت په اندخوی ولسوالی کې چې د کانال وروستی برخه ده، بشپړې کړي.

د قوش تېپې کانال د افغانستان په تاريخ کې يوه ستره حياتي، انکشافي او اقتصادي پروژه ده. دغه کانال داسې يوه پروژه ده چې د افغانستان په تاريخ کې يې سارى نه ليدل کېږي. دغه ستره پروژه د ۱۴۰۱ کال د وري په مياشت کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانيستل شوه. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي و، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د قوش تېپې کانال يوه حياتي پروژه وبلله او ويې ويل چې د دې پروژې پلي کول ددوی لومړيتوب دی. اقتصادي مرستيال زياته کړه چې د دې پروژې له بشپړېدو سره به پر نورو هېوادونو د افغانستان د غلې دانې تکيه راکمه او د کرنې سکتور به پراختيا ومومي. ددې کانال د لومړي فاز چارې د ۱۴۰۲ کال د ميزان مياشتې په ۱۹مه نېټه بشپړې شوې.

د قوش تېپې کانال چې له امو سيند څخه سرچينه اخلي، د بلخ له کلدارې ولسوالی پيل او د فارياب اندخوی ولسوالی کې پای ته رسېږي. دا لومړی ځل دی چې افغانستان به د قوش تېپې کانال په بشپړېدو سره د امو سيند کې له خپلو اوبو ګټه پورته کړي. له دې وړاندې يوازې زموږ ځينو ګاونډيو هېوادونو د خپلې خوښې مطابق له دې اوبو ګټه پورته کوله. هغه مهال افغانستان ددې وس نه و پيدا کړی چې په امو سيند کې خپل حق ترلاسه کړي. اسلامي امارت ددې حق په ترلاسه کولو کې پيش قدم شو او د قوش تېپې کانال چارې يې پيل کړې.

د قوش تېپې کانال په بشپړېدو سره به لومړی ځل په امو سيند کې که ټول نه وي يوه اندازه له خپلو اوبو ګټه پورته کړو او دوهم دا چې ددې کانال په تيرېدو سره به زموږ د کرنې سکتور په بشپړ ډول پراختيا ومومي. د قوش تېپې کانال د هېواد د شمال لويديز او شمالي برخو له هغو سيمو څخه تېرېږي چې د ۲۰۰ کيلومټرو په اوږدوالي او ۵۰ کيلومټرو په سور، ۱۰۰۰۰ کيلومټره مربع پراخې دښتې لري چې د اوبو له سخت کمښت سره مخ دي. دغه کانال په جوړېدو سره به له دې شاړو ځمکو څخه ۵۵۰ زره هکتاره خړوبه شي چې دا به د هېواد د کرنې په سکتور کې يو ستر انقلاب رامنځته او افغانستان به د غلې دانې له پلوه پر ځان بسيا کړي. تر څنګ به يې په مستقيم او غير مستقيم ډول زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابره او د ډېری خلکو اقتصادي ستونزې به هوارې شي.

# د غزني ولايت په مرکز کې تر ځمکه لاندې سوداګريز مارکيټ جوړيږي



د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په نهمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د خصوصي سکټور له لوري د غزني ولايت په مرکز کې له فرخي ځلور لارې څخه تر کلاسبز ځلور لارې پورې د سړک دواړو خواو ته تر ځمکه لاندې د سوداګريز مارکيټ د جوړولو طرحه وړاندې شوه. په غونډه کې تر هراړخيز بحث وروسته د پانګونې ياده طرحه د تاييد وړ وبلل شوه او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه. د دغه طرحې له مخې خصوصي سکټور پر دغه سوداګريز مارکېټ ۳۰۹ ميليونه افغانۍ پانګونه کوي، چې ټولټال په کې ۵۱۱ دوکانونه په پام کې نيول شوي، د جوړېدو چارې به يې د دوه کلونو په جريان کې بشپړې او سلګونو کسانو ته به د کار زمينه هم په کې برابره شي.

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې دغه غونډې ته د کابل ولايت په سروبي ولسوالۍ کې له ډبرو سکرو د ۴۴,۵ ميګاواټه برېښنا د توليد، په خوست کې د ۱۰ ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد او همدا راز په کابل او بلخ ولايتونو کې د سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو طرحې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. په ناسته کې تر هراړخيز بحث وروسته ټاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوې څو د دې کمېټې د نظرونو په پام کې نيولو سره د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره د يادو طرحو د مالي، اقتصادي او تخنيکي اړخونو د ارزونې په موخه ناستې ترسره او راپورونه يې پر ټاکل شوي وخت د پانګونې بين الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د ۸ ميلياردو افغانيو په پانګونې سره د برېښنايي سکنرونو د نصب قرارداد لاسليک شو



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په شپږمه نېټه د مالیې وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د ۸ ميلياردو افغانيو په پانګونې سره د ۳۳ برېښنايي سکنرونو د نصب قرارداد لاسليک شو. د دغه قرارداد له مخې به قراردادي شرکت د هېواد په (تورخم، حيرتان، سپين بولدک، اسلام قلعه، تورغونډۍ، نيمروز، ابو نصر فراهي، خوست، پکتيا، آقينې او شيرخان) بندرونو کې د هر ډول توکو د سکن کولو په موخه پرمخ تللي سکنرونه نصبوي، چې د هر ډول قاچاق مخنيوی به وکړي.

د يادونې وړ ده چې د پانګونې دغه طرحه د پانګونې بين الوزارتي کمېټې له لوري تاييد او د اقتصادي کمېسيون له‌خوا منظور شوې، چې قرارداد يې د مالیې وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ لاسليک شو. د دغه طرحې له مخې به خصوصي سکټور په يادو سکنرونو شاوخوا ۸ ميليارده افغانۍ پانګونه وکړي، چې ساختماني چارې به يې د دوه کلونو په جريان کې بشپړې او شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته به د کار زمينه هم برابره شي.



# په ملـــي اقتصــاد کـــې د مخابراتو سکټور ارزښت ته کتنه



**ليکوال: عبدالله ايمل**

## مقدمه

نن ورځ زموږ هېواد کولی شي د صنعتي او نوي صنعتي هېوادونـو پرمختګ په مطالعـې او تحليل کولو سره د دوی په پرمختګ کې د مخابراتو رول درک کړي او په دې برخه کې د عصري او مناسـبو ټکنالوژيو په کارولو او غوره کولـو سره خپل خدمات لوړ کـړي او په ورته وخت کې په بېلابېلو برخو کې خپل لګښـتونه کم او د هېـواد پرمختګ ګړندی کړي. دا مهال افغانسـتان د مخابراتـو پــه برخــه کې لکــه څنګه چې پــه کار ده پرمختــګ نه دی کړی، که په لنـډو وواېو چې په دې برخــه کې کار به يې کلونه وخــت ونيسي، خو ددې له پاره چې د نړۍ لــه ګړندي پرمختګ سره ملګری شي، اســلامي امارت د هراړخيزو پلانونو په نيولو سره د تېرو دريبــو کلونو پــه جريان کــې د مخابراتو ســکټور ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

د اســلامي امارت مخابراتو ســکټور نورو سکټورونو ته ورته په لوړه کچه د هېــواد اقتصادي ودې لپاره په يوه ثابته او دوامداره عايداتي سرچينه بدلوي. د افغانســتان اســلامي امارت د تېـرو دريبو کلونو پــه جريان کې د هېواد په لرې پرتو ســيمو کې د غوره مخابراتي خدمتونو وړانـدې کولو په موخـه د ۴۵۰ نويو ســايټونو جوړولو سربېره د نوري فايبر شبکې پراختيا، د ګرځنده موبايلونو د خاص کــوډ ثبت پروســه، ســيمه‌ييز اتصــال او د RTDMS سيستم له لارې د عوايدو راټولول يې له کاري لومړيتوبونو څخه وو.

## په ملي اقتصاد کې د مخابراتو سکټور ارزښت

د افغانســتان هر اقتصادي ســکټور د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره د ښــه او مؤثــر فرصتونو پر لرلو سربېره د مــلي اقتصاد په پرمختګ کې رغنده رول لري، چې له هغــې جملې يو هــم د مخابراتو ســکټور دی. په دې ســکټور کې د تېرو څلورو لســيزو راهيســې د اشغال، جګړو، ويجاړيو، ســياسي بې ثباتۍ او نورو ګنو ستونزو له امله د پام وړ پرمختګ نه دی رامنځته شوی. دا چې اوس افغانســتان د واحــد مرکزي نظام ښتـــن دی، اســلامي امارت د اقتصاد محوره سياست په غوره کولو سره د هېــواد د اقتصادي ثبــات د رامنځته کېدو په پار چټک ګامونه پورته کړي دي. د افغانســتان اســلامي امارت پــه مختلفو ســکټورونو کې د کورنـــۍ او بهرنۍ پانګونــې لپاره زمينه برابره کړې او د ســوداګريزو چارو لپــاره يې مصــؤن چاپېريــال رامنځته کــړی دی. د مخابراتــو په ســکټور کې د کورنۍ او بهرنــۍ پانګونې جلب، جذب او د پانګوالو ملاتــړ د هېواد په اقتصادي تګ لاره کې د يو مهم عنصر په ډول رول لوبوي چې د کاري فرصتونو رامنځتــه کول، د ټکنالوژۍ کارېدنې ته زمينه برابرېدل، په حکومتي ادارو کې د پروســو اسانه کېدل او په ټوله کې د هېواد په اقتصادي ودې او ثبات کې رغنده رول درلودلای شي. د افغانستان د معلوماتي ټکنالوژۍ ســکټور د دې ظرفيت لري چې په لوړه کچه د هېــواد اقتصادي ودې لپاره په يــوه ثابته او دوامداره عايداتي سرچينه بدل شي.

## په مختلفو ولايتونو کې د مخابراتي سايټونو جوړېدل

د هېواد په مختلفو ســيمو کې خصوصاً لرې پرتو ســيمو تــه د مخابراتي خدمتونو د رســولو قراردادونه د محترم مــلا عبدالغني بــرادر اخوند په حضور کــې د مخابراتو وزارت او خصوصي مخابراتي شرکتونو ترمنځ لاســليک شوي. د دغو قراردادونو له مخې به خصوصي مخابراتي شرکتونه د کندهار، نورســتان، بدخشان، ارزګان، زابل، کنړ، ننګرهار او کابل ولايتونو کې د لســګونو سايټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو ســيمو کې چې خلک مخابــراتي خدمتونو ته لاسرســی نه لــري؛ مخابراتي خدمتونــه وړانــدې کــړي. د اقتصادي کمېســيون د پرېکــړې پر اســاس د «افغان ټيــلي کام» مخابراتي شرکت چې تــر «۲۰» په زياتو ولايتونــو کې خلکو ته خدمات وړاندې کوي، قراردادونه يې تمديد شول.

## په بار وړونکو موټرو د جي پي اېس سيستم نصبول

نن ورځ د ښلا ښلو هېوادونــو ترمنځ د اړيکو پراختيا ته په پاملرنې سره، د هېوادونو ترمنځ د ترانزيټي توکو لېږد رالېږد د پراخېدو په حال کې دی او اړتيا ده چې دا برخه په ســم ډول مديريــت شي. پــه همــدې موخــه د اقتصادي کميســيون د ۱۴۰۱ کال د جواز مياشتې په ۲۲مه نېټه په جوړه شــوې غونډه کې د ترانسپورټي ســتونزو د حل او د معياري ترانســپورټي سيســتم د رامنځته کولو په موخه د ترانسپورټي چارو د تنظيم کميسيون له لورې وړاندې شوې طرحه له بحث وروسته تاييد او د منظورۍ له پاره کابينې

ته وړاندې او د کابینې له لوري منظور شــوه. ددې طرحې له لسو مادو څخه  یوه ماده په بار وړونکو موټرو د  جي پي ایس سیستم نصبول دي. د ۱۴۰۲ لمریز کال په اوږدو کې د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې افغان پُست شرکت ته پر ترانزیټي وســایطو د GPS نصبولو قرارداد ورکړل شو. د دغه قرارداد له مخې به افغان پُست شرکت پر هر ترانزیټي موټر د ۴۱ ډالرو فیس په مقابل کې GPS نصبوي.

د جي پي ایس له لارې د موټر سرعت د کنټرول ترڅنګ، دا وســیله کولای شي پــه بېړنیو حالاتو کــې له ګرځنده ټلیفــون پرته د اړیکې نیولو زمینــه برابره کړي، د جي پي ایس په مرســته د موټرو د غلا مخنیوی کیږي، ترانزیټي موټر نه شي کولای په خپلو موټرو کې قاچاق ترسره کړي او د دې وسیلې په مرســته هر شېبه د موټر په اړه چې په لویو او ترانزیټي لارو تګ کوي، معلومات ترلاسه کیږي. د جــي پي ایس دې اهمیت ته په کتو اســلامي امارت د معیاري ترانســپورټ رامنځته کولو پــه موخه دا ګام پورته کړی دی. پر ترانزیټي موټرو د جي پي ایس نصبولو موخه داده چــې له دې لارې بــه لومړی د یــادو موټرو امنیت خونــدي شي، دوهم دا چې هېواد کې به د ترانزیټ په اړه کــره احصائیه ترلاســه شي او مهمه خــبره داده چې پر ترانزیټي موټرو د جي پي ایس په نصبولو سره به د ترانزیټ برخه غښــتلې او له بهــر څخه راغلــي ترانزیټي موټر او شرکتونه به د امن احســاس وکړي. له دې سره به د هېواد سوداګري هم پرمختګ وکړي.

## پایله

دا وخــت په افغانســتان کې میلیونه وګــړی د ګرځنده ټلیفــون خدماتو ته لاسرسی لــري او د دې ترڅنګ د نفــوس ډېری برخه یې انټرنیټ هم کاروی. د مخابراتي خدمتونو وده د دې لامل شــوې ده چې نړیوال شرکتونه هم په افغانســتان کــې په دې برخه کــې پانګونې ته لیــوال شي. دا وخــت افغان بیســیم، روشــن، اریبا، اتصالات او افغــان تیلې کام شرکتونه د ګرځنده تلیفون خدمتونه وړاندی کوي، د افغانســتان اسلامي امارت په دې سکټور کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره کــړې چې په دې سره به یاد ســکټور د ملي اقتصاد په ثبات کې رغنده رول ادا کړي.



# تــولیــدات داخلـــی؛ اهمیت و راهکار های افزایش آن

**نویسنده: فضل ولی شیرانی**

## مقدمه

اقتصاد و رشد آن باید در اولویت کار قرار گیرد. با توجه به این که دغدغه توسعه و رسیدن به پیشرفت یکی از اهداف اساسی جوامع کنونی است، لذا حمایت از تولید، اعتدال در مصرف و شــگوفایی اقتصاد کشور بیش از پیش احساس می‌گردد. حمایــت از تولیدات داخلی و آمــوزش افراد به رعایت مصرف، پیامدهای متعــددی در جامعه دارد که به رشــد اقتصادی، فرصت های و کاهش بی‌کاری، افزایش عواید، شــگوفایی اســتعدادهای داخلی، رشــد تجارت، پیشرفــت صنایع و فابریکــه ها و بســیاری از نتایج مفید اجتماعــی و اقتصادی کــه در نهایت به توســعه پایدار و طولانی‌مدت منجر می‌گردد. زیرا یکی از لوازم توسعه پایدار رشــد تولیدات داخلی اســت. بعد از تامین نیازها و احتیاجات ملی، تولیدات جهت صادرات به دیگر کشــورها عرضه می‌شود و گســترش صادرات و تجارت در عرصه‌ی بین‌المللی جامعه را به یک قدرت بزرگ و مستقل اقتصادی مبدل می‌ســازد. اگر ما بتوانیم تولیــدات داخلی را رونق بخشــیم موضوع تورم  و کار حل خواهند شــد و اقتصاد داخلی به معنای حقیقی کلمه استحکام پیدا خواهد کرد. در ایــن مقاله اهمیت تولیــدات داخلی در رشــد اقتصادی، راهکارهای افزایش تولیدات داخلی و اقدامات انجام شده در بخش افزایش تولیدات داخلــی و فعالیت های امارت اسلامی در زمینه تولیدات داخلی اشاره خواهیم کرد.

## اهمیت تولیدات داخلی در رشد اقتصادی

در جهان صنعتی امروز، تولید ملی به عنوان یک سلاح رقابتی است و ســکتورهای تولیدی باید به افزایش رقابت، تنوع در محصولات، تغییر در تقاضا اجتماعی و افزایش سطح توقع مشــتری توجه کنند. اهمیت تولید ملی در اقتصاد بر کسی پوشیده نیست و برای استقلال کشــور، جلوگیری از خروج اســعار و مهم‌تر از همه اشتغال‌زایی، نیازمند به آن هستیم. اشتغال‌زایی یکی از مهم‌ترین مزیت‌های حمایت از تولیدات داخلی است، زیرا موجب کاهش نرخ بیکاری که در اولویت اقدام‌های دولت برای کشور قرار دارد، می‌شود. فرهنگ خرید تولیدات داخلی برای به حرکت در آمدن چرخه اقتصاد جامعه ضروری است و مسوولیت‌های مهم اجتماعی مردم به‌شمار

می‌رود. امروز در همه جوامع، تولید از اهمیت خاصی برخوردار است و همه انسان‌ها به نقش و اهمیت آن واقف اند. تولید رشد، شگوفایی، کار، تلاش، اشتغال، استفاده از طبیعت، رفع نیازهای زنده‌گی، رفاه شخصی و عمومی است. استفاده بهتر از منابع موجود برای رفع مشکلاتی هم چون بی‌کاری، تورم، مسکن و به حرکت درآوردن چرخ عظیم اقتصاد یک جامعه است. تولید عامل اصلی ایجاد استحکام در اقتصاد و محور پیشرفت و توسعه است. تولیدات داخلی اثرات در اقتصاد کشور دارد. تولید داخلی میتواند یک جامعه را به سوی استقلال و خودکفایی ببرد و از اتکا و وابسته گی ها رهایی دهد. اقتصاد داخلی رونق مې یابد، عواید ملی و صادرات را افزایش و واردات را کاهش دهد. از این جا مشخص می شود که تولید داخلی می تواند کشور را به سمت خودکفایی سوق دهد و بر رشد اقتصادی تأثیر مثبت داشته باشد.

## راهکارهای افزایش تولیدات داخلی

نمونه های رشد اقتصادی و تجارب کشورهای توسعه یافته نشان می دهد که بدون نظارت، حمایت و تشویق دولت، امکانات رشد، توسعه و پیشرفت صنایع داخلی میسر نیست، یعنی حکومت باید نقش مؤثر و تعیین‌کننده را در اقتصاد و توسعه صنعتی کشور ایفاء نماید. اما با تأسف که قبل از آمدن امارت اسلامی تجارت لجام گسیختهٔ افغانستان و نبود حمایت و تشویق حکومت از صنایع داخلی، این کشور را به مارکیت کالاهای کم کیفیت استهلاکی و تجملی غیر ضروری کشورهای همسایه تبدیل کرده و ضربات کمرشکن را بر پیکر صنایع نو بنیاد زده بود. در آن زمان شمار زیادی از فابریکه های تولیدی افغانستان در برابر رقیبان خارجی خود شکست خورده و فعالیت این فابریکه های تولیدی با مشکلات زیاد روبرو بود. بنابراین، استراتیژی مهمی که در حال حاضر می تواند میزان تولیدات داخلی را افزایش بخشد و صنعت را به سوی ترقی و پیشرفت سوق دهد تطبیق سیاست های حمایتی حکومت است. مثلاً حکومت می تواند برخی معافیت های مالیاتی را برای تولیدات داخلی قایل شود و مواد خام وارداتی مورد



نیاز صنایع داخلی را از پرداخت محصول و سایر عوارض گمرکی معاف سازد و به همین ترتیب موانع ترانزیتی را در برابر اقلام صادراتی در حد ممکن کاهش دهد. به منظور نهادینه کردن فرهنگ حمایت از تولیدات داخلی، حکومت می تواند برای تامین کالاهای مورد ضرورت ارگان های مربوطهٔ خویش به خرید تولیدات داخلی حق تقدم داده و از طریق رسانه ها به نفع تولید ملی تبلیغات مؤثر نماید. از این میان می توان به ارتقای کیفیت تولیدات داخلی و صادرات آن، تشویق سرمایه گذاری خارجی، از بین بردن فساد اداری و حمایت از تولیدات داخلی اشاره کرد. اگر این نکات مورد توجه حکومت قرار گیرد، می توانیم سطح تولید خود را افزایش دهیم.

## امارت اسلامی و اقدامات انجام شده در بخش افزایش تولیدات داخلی

در فوق راه های افزایش تولیدات داخلی را مشخص ساختیم. با آمدن امارت اسلامی گام های مؤثری در زمینه های فوق برداشته شده است. به کیفیت تولیدات داخلی توجه شده و محصول گمرکی بر صادرات محصولات داخلی به صفر رسیده است. در حال حاضر برای هیچ یک از محصولات داخلی که از افغانستان صادر می شود، محصول گمرکی وجود ندارد. تسهیلاتی برای سرمایه گذاری ایجاد شده است. با آمدن امارت اسلامی، سرمایه گذاران داخلی و خارجی به سرمایه گذاری میلیاردها دالری علاقه نشان داده و در برخی زمینه ها عملاً سرمایه گذاری کرده اند. امارت اسلامی به پدیده فساد اداری پایان داده است. در راستای حمایت از تولیدات داخلی می توان گفت که امارت اسلامی بر استفاده از تولیدات داخلی تاکید کرده و این اقدام را عملی ساخته است. معاون اقتصادی ریاست الوزراء طی سخنانی در افتتاحیه صندوق حمایت از سکتور خصوصی گفت که به تمام ادارات امارتی هدایت داده شده تا به منظور ارتقای سکتور خصوصی، باید در پروسه خریداری و تدارکاتی خویش، تولیدات و محصولات داخلی را در اولویت قرار دهد، اگرچه کیفیت آن تا حدودی از تولیدات و محصولات خارجی پایین تر باشد. از این جا مشخص می شود که امارت اسلامی به طور کامل از تولیدات داخلی حمایت می کند. علاوه بر این، امارت اسلامی یک سری اقدامات دیگر در زمینه صنعت انجام داده است. اولین گام هایی که امارت اسلامی برای تقویت سکتور صنعت و افزایش تولیدات داخلی برداشته است، زیر چتر اداره انسجام شرکت های امارتی فعال نمودن ۱۳ شرکت تولیدی که فعالیت های شان بطور کامل متوقف شده بود. برخی از شرکت هایی دولتی که تا حدی تولید داشتند بازسازی شدند و اکنون این شرکت ها ده ها قلم تولیدات دارند. امارت اسلامی برای رونق صنعت داخلی، تعرفه گمرکی اموال وارداتی را که در داخل تولید می شود و می تواند نیاز مردم را تامین کند، افزایش داد. یک مشکل عمده در عرصه صنعت که برق بود، با آمدن امارت اسلامی تا حد زیادی



حل شده است. تسهیلاتی برای اعطای مجوز و زمین به صنعتگران ایجاد شده است. تعرفه گمرکی واردات مواد خام برای صنعتگران کاهش یافته است. جریمه های مالیاتی معاف شده. با تطبیق تمامی این اقدامات روز به روز تعداد فابریکه های صنعتی در ولایات بزرگ افغانستان مانند کابل، قندهار، هرات، بلخ و غیره افزایش می یابد. ما میخواهیم به فعالیت تعدادی از فابریکه ها صنعتی در دو یا سه ولایت که اخیراً فعال شده اند اشاره کنیم. فابریکه داروسازی لایف پرل در کابل در چهارم اسد ۱۴۰۳ از سوی معاون اقتصادی ریاست الوزراء افتتاح گردید. در کارخانه داروسازی لایف پرل ۲۰ میلیون دالر سرمایه گذاری شده که علاوه بر تولید انواع مختلف دارو ها زمینه کار را برای ۳۰۰ نفر نیز فراهم نموده است. در ولایت قندهار فابریکه های نساجی پنبه و نساجی پشمی دوباره شروع به کار کردند.

مسوولان فابریکه نساجی نخی قندهار می گویند که این فابریکه دارای ۳۰۰۰ ماشین فعال که از این تعداد فقط ۴۰۰ دستگاه در حال استفاده است. این کارخانه تار قالین بافی، کمپل و پتو را تولید می کند. همچنان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در سفر به ولایت هرات، فابریکه های تولیدی ایتوک فارما و افغان میدسن و فابریکه تولید مشروبات غیر الکولی شمس کولا را در این ولایت افتتاح نمودند. این همه اقداماتی است که امارت اسلامی برای افزایش سطح تولیدات داخلی انجام داده است. در حال حاضر افغانستان در ۲۴ سکتور به ۸۰ کشور جهان صادرات دارد که اکثریت اموال صادراتی تولیدات داخلی افغانستان است. بر اساس گزارش ها، افغانستان در حال حاضر در بیش از چندین بخش به خودکفایی نزدیک شده است و در تولید مواد غذایی تاحدی ضرورت های داخلی را مرفوع می سازد. ازین معلوم شد که امارت اسلامی تمامی راهکارها را در زمینه رشد تولیدات داخلی و صنعت عملی نموده که بر اساس آن می تواند تولیدات داخلی را افزایش دهد و افغانستان را به خودکفایی برساند.

## نتیجه گیری

صنعت و محصولات صنعتی نقش عمده ای در رشد اقتصادی کشورها دارند هر چه کشوری قوی تر و صنعتی تر باشد، وضعیت اقتصادی آن بهتر می شود. مانند سایر کشورها، سهم صنعت در رشد اقتصادی افغانستان هم مهم است. با وجود اینکه افغانستان از نظر نیروی انسانی، منابع طبیعی، معادن و جنگل ها کشوری غنی است و از همه اینها می توان به طور کامل در عرصه صنعت استفاده کرد. اما جنگ‌های چهار دهه گذشته این بخش از کشور ما را نیز تحت تأثیر قرار داده است. پس از سال ۲۰۰۱ میلادی حکومتی که در نتیجه تهاجم امریکا و ناتو شکل گرفت، میلیاردها دلار به نام آبادی و بازسازی افغانستان در ۲۰ سال گذشته دریافت کرد، اما در عرصه اقتصاد به ویژه در بخش تولید و صنعت داخلی هیچ دستاوردی نداشت. هر کارخانه تولیدی که با سرمایه خصوصی ساخته می شد، موانعی برای آنها به دلیل حکومت داری ضعیف و فاسد ایجاد می کرد و تا حد زیادی از گسترش این فابریکه ها جلوگیری کردند. با ادامه این وضعیت بسیاری از فابریکه ها از فعالیت باز ماند. مگر با آمدن امارت اسلامی پیشرفت های بیشتری در صنعت کشور ایجاد شد و تولیدات داخلی افزایش یافته. قبلا به آن اشاره کردیم در حال حاضر افغانستان در ۲۴ سکتور به ۸۰ کشور جهان صادرات دارد که بیشتر آن را تولیدات داخلی تشکیل می دهد. از اینجا معلوم می شود که اگر رشد صنعتی و تولیدات داخلی ما به همین منوال پیش رود، دور نیست که افغانستان به زودی به یک کشور صنعتی در جهان تبدیل شود.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ؋۷۰,۸۲ | ؋۷۰,۸۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۵ | ؋۲۴۵ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۲۸ | ؋۱,۲۸ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۷,۲۵ | ؋۷۷,۲۸ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۸۲ | ؋۰,۸۲ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۴۴ | ؋۸۴۴ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۸۹,۹۷ | ؋۹۰,۰۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۸۶ | ؋۱۸,۸۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۲۸ | ؋۱۹,۲۹ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۸۶ | ؋۹,۸۷ |